## يوملت،يوه رايه،يوليد لوري

## په افغانستان کې دټاکنو دبهير دپياوړتيا او رغوني په موخه ګډه ژمنه

### موږ د ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹ کلونو د ټاکنو د ترلاسه شويو زدکړو او راتلونکی ټاکنو د کنفرانس ګډونوال ،په خپل هيواد کې دټاکنو دبهير پياوړتيا او رغونی ته ژمن يو.

په هيواد کې دولايتی شوراګانو د۱۳۹۲کال ،دولسمشری ۱۳۹۳او ولسي جرګي ۱۳۹۴کال ټاکنو، ته دچمتوالی په موخه دلاندی اقداماتو پلی کولو غوښتونکی يو:

۱. دټاکنيزيو بنسټونو دخپلواکی ساتنه عامه ول لکه د (دټاکنو خپلواک کميسيون،دټاکنو د شکاياتو کميسيون او د دنوماندانودواکونو دڅيړني کميسيون).

۲.دټاکنو پرپايلو د وګړو دباور د پياوړتيا او پراخه عدالت راوستلو په موخه داړونده بنسټونو په کړنو کې دروڼتيا راوستنه.

۳. دسياسی ګوندونو هڅونه ترڅو وړ او غوره ښځينه او نارينه نوماندان معرفی کړی
دټاکنيزو سياليودلګښتونو او مرستو په اړه ځواب ورکونه، دا استازو له لوری دکړنو په اړه خلکو ته هر اړخيز راپور ورکول.

۴.د پيژندګلوی د تثبيت ديو ځانګړی ميکانيزم جوړيدنه د دقيقی سر شميرنی څخه په ګټه، تر څو وکړای شی نوماندان په دقيق ډول و ارزوي او جعلی کارتونه وپيژندل شی.

۵.که شوني وي، د څو ټاکنو په يو وخت کې تر سره کول

۶.ديوداسی سيستم معرفی کول چی د ټاکنو د پرمختګ پيژنده د لمړنيو ترتيباتو د ارزونی او تر سره کيدو ، دټاکنيزو بنسټونو دکړنو او مهمو کليدی سياسي څيرو په اړه وکړاي شی.

۷.په ټاکنو کې د روڼتيا په موخه د ټاکنو د قانون په ځينو برخو کې بدلون راوړل.

موږد کنفرانس ګډونوال ددولت له دری ګونو قواوو څخه غواړو ترڅو د يو روڼ ټاکنيزاو ځواب ورکونکی بهير په لور ټولی اړينی لاری او امکانات برابر کړی تر څو يو ځل بيا د افغانستان خلک پدی بهير باورمند کړی.

موږدټولو سياسی ګوندنو په مشرانو ،مدنی ټولنو،علمی بنسټونو،رسنيو،مسلکی سازمانونواو مذهبی مشرانو غړکووچی زموږ دغه وړانديزونو ته دی چی موخه يې په هيواد کې دټاکنيزبهير پياوړی کول او په افغانستان کې دولسواکی غښتلی کول دی همکاری وکړی.

دغه مسوده د ۱۳۹۰ کال د وږي د مياشتي په ۲۸ او ۲۹ مه نيټه د افغانستان د ۱۳۸۸ او ۱۳۸۹کلونو دټاکنو څخه دترلاسه شويو زده کړو او راتلونکي تګلاري تر عنوان لاندی په کنفرانس کې تصويب شوه، نوموړی کنفرانس دفيفا لخوا د ان. ډی ای (د ملی ديموکراتيک انستيتيوت) او دامريکا دپراختيايی اداری (USAID) په مرسته ترسره شو.